آصف بهاند
۲۰۱۷/۰۲/۱۷

# پناه یوسم کوم یو غر ته؟

یوه ورځ مې د نا پیژاند یار، بخت زاده دانش د«زه به نه لیونی کیږم؟» تر سرلیک لاندې یو شعر چې په ترنم او سوز سره یې دکلمه کاوه، واوریده، د میاشتو او کلونو تنده یې را ته ماته کړه.د شعر په اوریدو سره مې د مودو، مودو د سکوت ماني ونړیدله او سمدلاسه مې دا څو بندونه ور ته ولیکل:

**آخوا ګورم، دې خوا ګورم**

**هیڅ څوک نه راځي نظر ته**

**پناه یوسم کوم یو غر ته؟**

**وطن وران شو لوټه، لوټه**

**خلک ډوب دي جهالت کې**

**ګلستان نه را ستنیږي**

**ترکستان ته روانیږي**

**دلته هر څه ته چې ګورم،**

**نو کریږم**

**زه به څنګه پاتې کیږم؟**

**«زه به نه لیونی کیږم؟»**

د ۲۰۱۶ کال د فبروری لسمه، ډنمارک




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ